پښتو ژباړه: رحمت آريا
۲۰۲۴/۰۴/۲۶

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۷۲ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سويل – ختيځ

ايديت:
ډاکټر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**ريشخور پائين:** ـ ۳۴، ـ ۶۹: : دا د کابل د چاردهي په درې کې د ريشخور بالا د شمال په تقريباً ۱۲ مايلۍ کې او د "قلعهٔ پتهو؟ / فتو- ژ" [1] د سويل په ۱ مايلۍ کې يو کلی دی. ريشخور پائين يا کوز ريشخور له بر ريشخور څخه د يوهٔ غرني مهميز په وسيلې جلا سوی چې ډېر لوړوالی نه لري. استوګن وګړي: تاجيکان، قزلباشان او بارکزي، د دوی هره ډله خپل ځانته خپلي کلا ګاني لري. ويل سوي چې د دواړو ريشخونو د کليو تر منځ د کابل د سيند له پاسه يو ډېرين پل تير سوی دی. (آی. بي. سي)

* **ريوا:** [2]: ۴ – ۳۵، ۵۷ – ۶۸ "ن": دا د لغمان په ولايت کې، د غوربند د سيند د يو ښانګي "جر نمک آو" [3] په اوږدو کې يو کلی دی.

[1] -Kala -i- Pathu
[2] -RIWA
[3] -Jar -i- Namakao


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

* **ريو کک**: [4]: ۳ – ۳۴، ۶ – ۶۷ ‹ن›: دا د باميانو په ولايت کې د ‹پيتاو قول› [5] په سويل لويديځ کې د ‹وَرَس› [6] په سيمې کې يو کلی دی.

**روباه** : [7]: دا د ‹گل کوه› [8] په غرنی لړی کې د غزني او د ‹جرماتو› [9] د درې تر منځ يو کوتل دی. دا کوتل په همدې غرنی لړی کې د ‹گال بَوري› [10] د کوتل کټ مټ ځانګړتیاوي لري. ‹براد فوټ›

* **رُباط**: وگورئ: رَباط

**رُباط** : ـ ۳۳، ـ ۶۸: دا د خروار په سويل لويديځ لوري کې د ‹کوهٔ رباط› ‹کوهٔ سر› او ‹کوهٔ گـُـربد/ گوربت – ژ› [11] له دېو ښخه د اوبو د راټوليدلو ځای دی چې يوه پراخه دره جوړوي او په منځ کې يو شمــېـر ښنگيزې اوږدې تنگې درې دي چې له دوړاو خواوو مخ خلاصي دي. د درې په سر کې ۳ لارې تــيــرې سوي چې په ‹شلگهر غر› [12] باندې منتهي کــېـږي؛ دا لارې دا دي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | له گربد/ گوربت – ژ ښخه تر باط پورې : وگورئ: گربد: Gurbed; | |
| ۲ | او | کوتلِ ستر نی Kotal -i- Satamai او کوتل آرده Kotal- i –Arda: دا دواړو کوتلونه د آسونو د تگ لپاره مناسب دي او دواړه ئې د کربد کوتل ته ورته دي. |
| ۳ | | |
| (گريسباخ) | | |

په دې نوم يو کلی په ۳۴ – ۳۳، ۴۲ – ۶۸ ‹ن› کې موقعيت لري. ‹لودويگ آدمک›

**رُباط** ـ ۳۴، ـ ۶۹ : دا د چاريکارو په سويل ختيځ کې د کليو يوه ډله ده چې د تاجيکانو ۲۰۰۰ کورنی په کې ميشتي دي. ‹يومي معلومات›

**رُباط**: وگورئ: زک: زاک

* **رودات**: [13]: ۱۵ – ۳۴، ۳۴ – ۷۹ : رودات د ننگرهار د ولايت يوه ولسوالي ده چې ۶۶۱ کيلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمــېـر ئې چې بزگري پرگنې دي د ۳۳۱۸۰ تر ۳۴۴۱۰ تنو تر منځ اټکل سوی دی. دا ولسوالي له شمال لوري له سرخ روډ او کامې، له ختيځ لوري له بټي کوټ او شينوارو، له سويل لوري له اچين او دهٔ بالا /هسکي مينې – ژ او له لويديځ لوري له پيچير آگام او چپ رهار سره کرښه لري. رودات ۴۹ کلي لري چې ۱۳ ئې له ۵۰۰ تنو ډېــر استوگن وگړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

4 -RIWKAK
5 -Pitaoqol
6 -Waras area
7 -Waras area
8 -Gulkoh Range
9-Jarmatu
10 -Galbauri pass
11-Koh -i- Robat, Koh- i -Sar, and Koh -i- Gurbed
12 -Shilghar
13-RODAT

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بازار | | حصار شاهي | | Kan -i- Mohmand | | کانِ محمد | |
| Qala -i- Murji | قلعهٔ مُرجي | Chaghari | چغري | Qala -i- Miran | قلعهٔ میران | Chachi Qala | چاچي قلعه |
| Zarbacha | زرباچا | Qarya-i-Zakhel | قریهٔ زاخیل | Qarya -i- Diwan | قریهٔ دیوان | Koza Qala | کوزه کلا |
| Kamar | کمر | Zeno | زینو | Banda | بانډه | Barbalu | باربالو |
| Qarya-i-Sare Pay (Seh Pay) | | قریهٔ سیر پای «سهٔ پای» | | Roghani (Roghali) | | روغاني «روغالي» | |
| Sangar (Sangar Bero) | | سنگر «سنگر بیرو» | | Mazina (Narta) | | مزینه «نارته» | |
| Gazwabi (Gazwani) | | گزوابي «گزواني» | | Dushah | دوشش | Metrani | میتراني |
| Hindrani Ulya | | هندراني علیا | | Banduk | بندوک | Maduh | مدوح |
| فرخ شاه خیل | | Laghar Joy | | لغار جوی | | هندراني سفلی | |
| Kandigan | کندیگان | Terili (Karili) | | تیریلي «کریلي» | | سید احمد خیل | |
| حیدرخیل | | Qala -i-Jaba | | قلعهٔ جبه | | Zango Kach | زانگو کڅ |
| Qala -i -Ata Khan (Changira) | | قلعهٔ عطاخان «چنگیره» | | Saadatmand (Qara -i- Saadat) | | سعادتمند «قلعهٔ سعادت» | |
| Kheder Khali | | خضر خالي؟/ خیل -ژ | | Manzanai, | منزاني | Khatwanai | خط واني |
| ښایسته خیل | | Kadai | کادي | Koz Balu | کوز بالو | حصارک | |
| Anar Khel | انارخیل | Tawus Khel, | | طاووس خیل | | Shayesta Khel | |
| Katraghi | کتراغي | Tatang | تتنگ | Bara Khel | باړه خیل | Qarya -i- Dawani | قریهٔ داواني |
| قلعهٔ جابر | | قریهٔ شاهد خیل | | قریهٔ نادر | | Qawai | قوي |
| Kadra | کدره | Spola | سپوله | Parsha Khel | پرشا خیل | Sipaya | سه پایه |
| Kaihan | | کیهان | | Kambalo | کمبالو | آخوند زاده | |

* **روغاني:** [14]: ۱۴ – ۳۲، ۳۲ – ۷۰ «ن»: دا د ننگرهار په ولایت کې د شاهي کوټ د سویل لویدیځ په نږدې ۳ مایلۍ کې د کابل د سیند د یوې څانگې په اوږدو کې یو کلی دی.

**روغاني گردن:** [15]: ۳۸ – ۳۴، ۴۳ – ۶۶ «ج»: لوړوالی: ۱۱۷۰۰ فیټه: دا د «بند امیر – هري روډ» [16] په اوب یللونکي یا آبریز کې یو کوتل دی چې له سرِ جنگل څخه تر یخ ولنگ پورې سړک ورباندې تېرېږي. د سرِ جنگل له کلي «خواجه جوش» [17] څخه یو سړک په اساسي درې ورخېږي (چې له دې کلي پورته د «گرم آو» [18] په نوم یادېږي) او بیا د میتلند په وینا چې د ۱۸۸۵ز کال د اکتوبر په میاشت کې په دې لارې تللی دی، دا سړک د «دهانِ سرخ گلي» [19] له ډبرینې خولې څخه تېرېږي او د مایل د ثلث له واټن وروسته «کهنه دِه» [20] ته رسېږي.

دلته یوه کوچنۍ خامه کلا ده چې گرد چاپیره ئې د هزاره گانو جونگړې راتاو دي. دا کلا د درې په شمال کې له غرونو د راوتلي ټیټ مسلط ځای پر سر ودانه سوې او له کلا جلا یو برج لري چې له پاسه پر سیند باندې مسلط ولاړ دی. دا د

[14] -ROGHANI
[15] -ROGHANI GARDAN
[16] -Band -i-Amir- -Hari Rud watershed
[17] -Khwaja Josh
[18] -Garmao
[19] -Dahan -i -Surkh Guli
[20] -Kohna Deh


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«گرم آو» د مشر، قاسم علي بیگ استوګنځی دی. له ده کهنه لړ ورهاخوا او د درې په مقابل (سویل) لور کې د «تخته» [21] د منځغري خولـۀ ده.

له کهنه دِه څخه یوه لاره تر غرونو لاندې د درې په شمالي اړخ کې تللې ده چې له ۲۰۰ تر ۱۵۰ یارډو پورې ارته ده. دلته ډېـره لړ کرهنه سوې ده او ولې کوچنۍ ونې په کې پریمانه دي. شمال لور ته غرونه ستوغ او دنګ دي. په بله خوا کې له درې سره بلافاصله جوخت غرونه دي چې د شا د غرونو مهمیزونه دي. لاره ځینو ځایونو کې په ځانګړې توګه په هغو ځایونو کې چې د سیند اوبو وړې ده تـنګه کـېـږي چې ان تر نسبتاً ۱ مایل پورې همداسې ده خو دا لاره بیرته په آسانۍ سره پراخیدای سي. یوه لاره لیدل کـېـږي چې په سویل کې پورته ختلې ده او ویل کـېـږي چې دا لاره شهرستان ته تللې ده.

**روګون:** یا: روجان، ریګان: [22] : ــ ۳۴، ــ ۶۹: دا له «بـیـلوت» [23] څخه تر «خوردکابل» [24] پورې د سړک په اوږدو کې د غلزیو یو کلی دی چې له خورد کابل څخه نبـږدې ۱۵ مایله لیرې موقعیت لري. (آی. بي. سي)

**روجان:** وګورئ: روګون

**روکیان:** یا: راکیان: یا: روقیان: [25]: ۵۹ ــ ۳۳، ۴۰ ــ ۶۹ «ن»: دا د کورم په درې کې له علي خیلو ۴ مایله او د غزني د سړک له لارې له کوهاټ څخه ۱۶۵ مایله لیرې یو کلی دی. دلته دره د نیم مایل په اندازې تـنګه کـېـږي چې په دواړو غاړو کې ئـې دنګي مسلطي غرنۍ څوکې ولاړې دي او د سرو په ونو ډکې او پوښلې دي. دلته ۳۰ کورونه دي او شاو خوا ډېـر نور خوارۀ وارۀ کورونه هم سته چې ګرد چاپیره ئـې د میوو ونې او د جوارو پټي راتاو دي. د کلي اساسي برخه د «هزار درخت» د تـنګي په خولې کې راغلي او له پاسه ئـې یو ناڅاپه د سپین غرۀ لوړ مسلط مهمیز څوړند راغلی دی. دلته انګبین یا شهید تولید کـېـږي او ډېـر پریمانه دي او تقریباً هر کور ځانته د انګبینو د مچیو ځالې لري. (لمسدن، بـېـلو)

**روشان:** دا د چهاردسته هزاره ګانو یوه کوچنۍ ځانګه ده.

**روښانه:** [26] : ۱۲ ــ ۳۳، ۴۲ ــ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د نادر شاه کوټ په سویل او د تـنیو په سویل لویدیځ کې یو کلی دی.

**روضه:** [27]: ۳۵ ــ ۳۳، ۲۷ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني د سویل ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی چې د زاړۀ ښار د پاتې شونو په منځ کې واقع دی؛ دا ښار د دولسمې پیړۍ په نیماییو کې د غور د پادشاه په لاس ونړول سو. د ښار د ورانیو په منځ چې هر لور ته خورې ورې پرتې وې دغـۀ سوبمن پادشاه د غزني د نامتو سلطان، محمود غزنوي، له مقبرې سره غرض ونـۀ کړ او مقبره ئـې ورانه نـۀ کړه.

---

21 -Takhta glen
22 -ROGUN Or ROJAN, REGAN
23 -Belut
24 -Khurd Kabul
25 -ROKIAN Or RAKIAN, RUQYAN
26 -ROSHANA
27 -ROZA Or RAWDZA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د مقبرې جوړښت هم د وخت په تیـریدلو سره تخریب سوی دی، له مرمرو جوړ د زمریو مات سوي اشکال له نورو کوچنیو قطعاتو سره ټول د دې مقبرې د انګړ او د تهداب پر پخوانی ښکلا باندې شاهدي ورکوي.

په خپله قبر ابتدائـي او ساده جوړښت لري او مقبره چې یوه مستطیل ډوله کوټه ده ۳۶ فیته په ۱۸ فیتو کي ارتوالی لري چې پر سر باندې ئـي یوه خاورینه ګنبدئ جوړه سوې ده. د قبر ډبره د مرمر ډبره ده چې پر مخ ئـي لیکني کیندل سوي دي؛ د پیریو په اوږدو کي د ډبـرو زایرینو د راتګ له کبله چي د قبر پر ډبرو ئـي لاسونه وهلي دي، دا لیکني تر ډیره صیقل سوي دي. په مقبره کي دننه د شترمرغ لویې لویې هګی، د طاوؤس ښکي او نور ښکلي خو بې ارزښته شیان راځړول سوي دي. هغې ودانی چې په کي د «ستر سوبمن» آثار ځای پر ځای ول د برتانویانو له یرغل مخکي څو دروازې درلودلې او باور دا وو چې سلطان محمود د خپلې بریا په ویاړ په «ګزرات» کي د «سومنات» [28] له معبد څخه را ایستلي وې. دا دروازې د چندڼ یا صندل له لرګیو جوړې وې چې ۱۸ فیته لوړوالی او هرې یوې ئـي ۵ فیته پلن والی او ۳ انچه پریروالی درلود او پر مخ ئـي په اسلامي سبک ډېـر ښکلي نقش و نګارونه کیندل سوي ول. هماغسي چې ویل سوي چې سلطان محمود دا دروازې په ۱۰۲۴ز کال کي را وایستلي نو دا دروازې باید تقریباً ۹۰۰ کاله عمر ولري او لا تر اوسه په فوق العاده ښـهٔ حالت کي دي. په ۱۸۴۲ز کال کي کله چې د جنرال نات په مشری برتانوي ځواک غزني له منځه یووړ دا دروازې ئـي په دې هیله را و ایستلې او له ځان سره ئـي هندوستان ته راوړې چي دا دروازې بیرته په ګزرات کي پر خپل اصلي ځای یعنی معبد کي کښېـږدي. «د ژباړونکي یادونه: لیکوال له دې ځایه په ماته ژبه تـېـر سوی دی. جنرال نات دا دروازې د هندوانو د خوشحاله کولو او د هغوی د زړونو د لاس ته راوړلو لپاره وایستلې چې ګنې هندوانو ته وښیي چې دا دی موږ ستاسو غچ واخیست» ( اوس تصدیق سوې چې دا دروازې د سومنات د معبد دروازې نـهٔ وې. تاسو دا دروازې د آګرې په کلا کي لیدلای سئ. ادعا سوې چې ګـرز د «ورانکار- ویرانګر – محمود» دئ؛ دا هغه لقب دی چې د لویدیځ په تأریخ او روایاتو کي د محمود کورنی ته ورکړل سوی دی؛ دا ګرز معمولاً د هغـهٔ مُلا له پلوه ښودل کـېـږي چې د مقبرې خادم او مجاور دی، او هماغسي چې توقع ئـي کـېـږي دا ګرز د همدومره ستر اتل له پلوه کارول کیدلو ته منسوب کـېـږي او دومره درونږ دی چې د اوسنی عصر نارینه ئـي نـهٔ سي کارولی.

مخکي له دې چي برتانویان دا ځای اشغال کړي دا ګرز له دې ځایه وایستل سو چي د برتانویان لاسونو ته ونـهٔ غورځي. د مقبرې شاو خوا په ښکلو مجللو بڼونو او د میونو په باغونو احاطه سوي دي چي د سیفون په وسیلې خړوبېـږي او پریمانه او ښي اوبـهٔ تر دې ځایه رارسوي.؛ دا یو ډېـر ښایسته ځای دی چې د روضي یا د بڼ نوم ورکړل سوی دی. د کلي کورونه د لرغونو مهالونو ظاهري بڼه لري.

د زاړهٔ ښار وراني ویجاړې په بې شکلو او زښتو ډېـرو پراخو غونډیو مشتملي دي. د دې ښار له پخواني جلال او پرتم څخه یوازنی پاتي شوني دوه منارونه دي چي له یو بل څخه ۴۰۰ یارډه لیرې دي او ویل کـېـږي چي دا منارونه د دې لرغوني ښار د بازار حدود ول. دا منارونه له خښتو جوړ سوي او ۱۰۰ فیته لوړوالی او ۱۲ فیته قطر لري.

معمولاً دا منارونه سلطان محمود ته منسوب کـېـږي. خو دا باید په هغـهٔ عصر پورې منسوب وبلل سي چي کوفي لیکدود کارول کیدهٔ ځکه د منارونو خښتي په دې ډول اېښودل سوي دي چې په کوفي لیکدود د ډېرلیکو او جملاتو استازیتوب وکولای سي. یو منار په خپل منځ کي مارپیچي پوړی یا زیني لري او د منار په تهداب باندې ولاړه ده. کله چې د غور

---

28 -Somnath in Guzerat



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پادشاه د غزني لرغونی ښار نړاوۀ نو د کورونو او ودانیو نړول ورته آسانه ول، نوموړي کولای سول دا منارونه هم ونړوي خو دا منارونه ئې ونـۀ نړول ځکه گومان کــېـږي چې د غور پادشاه د کوم دیني مذهبي احساس له کبله د منارونو له نړولی لاس اخیستی دی. ﴿تورنتون﴾

**روز آباد**: یا: قلعـۀ ارسلا خان: ۲۴ – ۳۴، ۱۶ – ۷۰ ﴿ج﴾: دا د گندمک پر لاري له جلال آباد څخه ۲/۱ – ۱۲ مایله لیرې یو کلی دی. د ۱۸۷۹- ۱۸۸۰ زکال د پوځي کمپاین په لړ کي دلته یوه برتانوي قرارگاه وه چي ترکیب ئـي بدلون موند ؛ د سړک د شمال په ۸/۷ مایلی کي په کلا کي دننه د پوځي مهماتو او تجهیزاتو یوه زیرمتون وو او یو عمومي باغ ئـي هم درلود. د غلزیو مشر ارسلا خان دغه ځایونه په ډکي کي د ودانیزو چارو له قرار داد څخه د لاسته راغلو پیسو په مرستي ودان کړل. دا کلا په ۱۸۸۵ز کال کي اوسني امیر ونړوله؛ د دې کلا د نړولو دلیل دا وو چي اعلیحضرت نـۀ غوښتل د داسي یوۀ تن کلا دریدلي او ځای پرېـږدي چي د دۀ نـۀ خوښیدۀ. ﴿آی. بي. سي﴾

**روزني**: [29]: دا د غلزیو په سیمي کي یو خط الرأس دی چي د ﴿تورکاني ناوې﴾ [30] په لویدیځ کي واقع او له ﴿سرمارغي﴾ [31] څخه ئـي جلا کوي. دا خط الرأس د دښتي له سطحي څخه ۱۰۰ لوړوالی لري چي ډېـر ستوغ نـۀ دی او محمد زي توخي غلزي په کي استوگن دي. ﴿براد فوت﴾

* **رودکي**: [32]: دا د غزني په ولایت کي د ﴿مریاني﴾ [33] د شمال لویدیځ په ۲ مایلی کي یو کلی دی.

* **رود بار**: ۴۴ – ۳۴، ۵۰ – ۶۹ ﴿ن﴾: دا د کابل په ولایت کي د سروبي د شمال ختیځ په شاوخوا ۱۲ مایلی کي د ﴿وزبین خوړ﴾ [34] په اوړدو کي یو کلی دی.

**رود**: د هغو ځایونو نومونه چي د رود په لغت پیل کــېـږي یو پاړسي اضافت ورزیاتېـږي چي د راتلونکي نوم ځانگړتیا وربانديې روښانه سي.

**روکه**: یا: **رخه**: [35]: ۱۶ – ۳۵، ۲۸ – ۶۹ ﴿الف﴾ دا د پنجشیر په درې کي له بازارک څخه تقریباً ۲ مایله کوز یو کلی دی. دلته د ۱۵۰ تـنو خاصه دارانو قرارگاه هم ځای پر ځای ده. هغه قافلي چي له کابل څخه د خاواک د کوتل له لارې ځي معمولاً دا ځای خپل پینځم منزل جوړوي. ﴿آی. بي. سي﴾

**رستم**: دا د دایزنگي هزاره گانو یوه څانگه ده.

**رستم خیل**: ۲۷ – ۳۴، ۴۶ – ۶۸ ﴿ج﴾: دا د کابل د لویدیځ په نبـږدې ۲۵ مایلی کي د ﴿ایسفک﴾ [36] د کوتل په ختیځ کي بامیانو ته د تللي سړک په اوږدو کي یو کلی دی. د رستم خیلو له سیمي سره یوه کوچنی علاقه هم ضمیمه ده چي د کابل د

---

29 -ROZANAI
30 -Turkani Nawa
31 -Sarmargha
32 -RUDAKAI
33 -Mariani
34 -Wuzbin Khwar
35 -RUKA Or ROKHEH
36 -Isphak pass


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پاڒوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سیند د غاړې په اوږدو کې موقعیت لري ؛ د درې پلنوالی ئې دلته له څه دباندې ۱۲ مایلو څخه لږ نـهٔ دی، دا دره په ښـهٔ ډول خړوبه ده او په ډېـریو برخو کې ډېـره کرهڼه په کې سوې ده. دلته شولې لږ کرل کـېـږي خو وربشې او غنم د دې ځای اساسي کښت او تولید دی. په غرونو کې ئـې لرگي نـهٔ سته خو واښـهٔ او بوټي ئـې پریمانه دی. د دې ځای محصول ۲۱۰۰ خرواره دی. استوگن وگړي ئـې سني افغانان «پښتانـهٔ -ژ» دي خو دا څرگنده نـهٔ ده چې دوی د کومې قبـیـلې دي. «وود»

**رستم خیل** :۳ – ۳۳، ۱۳ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د سردِهٔ روډ په درې کې «پُتوال» [37] ته نږدې یو کلی دی.

* **رستو**: [38] : دا د نورستان «پشل» [39] د سیند په اوږدو کې د لغمان په ولایت کې د «گدوال» [40] د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

**سعادتمند**: ـ ۳۴، ـ ۷۰ : دا د جلال آباد د ولسوالي د «کوټ» په علاقه دارۍ کې د «کمال خیلو» د شمال په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کلی دی. استوگن وگړي: تـیـراییان. «جنکینز»

**صبرۍ: سَـبـَـرۍ: یا: زَمـبــَـرۍ:** [41]: ۳۴ – ۳۳، ۵۲ – ۶۹: سَبَرۍ د پکتیا د ولایت یوه علاقه داري ده چې ۳۱۳ کیلومتر مربع مساحت لري او د وگړو شمـېـر ئـې چې بزگرې پرگنې دي د ۱۶۱۰۸ تر ۲۲۲۴۵ تـنو تر منځ اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له موسی خیلو، له سویل لوري له خوست، له ختیځ لوري له «تریازي» او «باک» [42] او له شمال لوري له جاني خیلو سره کرښه لري. سبرۍ یا صبرۍ ۶۰ کلي لري چې ۱۲ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوگن وگړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Zavar Kalai ( Saidan Khel) | | زَوَر: ژور- ژ کلی «سیدان خیل» | | Levaneyo Kalai (Lewan Khel) | | لیوانیو کلی «لیوان خیل» | |
| Baryaqubi ( Saryaqubi Kalai) | | بَریعقوبي «سر یعقوبی کلی، کوچنی یعقوبي» | | Husain Kalai (Saydan Khel) | | حسین کلی «سیدان خیل» | |
| گل ډک کلی «گل ډک خیل مال» | | Khori Kalai | خوري کلی | Orri Kalai | اوړي کلی | کوز یعقوبي کلی «کوچنی یعقوبي» | |
| Mad Khel (Mangat Khel Mal) | | مدخیل «منگټ خیل مال» | | Sabza Kalai | سبزه کلی | Guldak Kalai (Guldak Khel Mal) | |
| Abo Khel | ابوخیل | Rahim Kohol | رحیم کهول | Umumi Zambar (Umum Zambar) | | عمومي زمبر «عموم زمبر» | |
| Lakari (Lori Kalai) | | لکړي «لوري کلی» | | Okbi (Aqbi) | | اوبکي «آق بي» | |
| Guldar Kalai | | گل دار کلی | | Toda | توده | Pari Khel | پري خیل |
| Laghar Kota (Laghar Kot) | | لغر کوټه «لغر کوټ» | | قلعـهٔ کاریز | | Sabari | سبري |
| لیوان خیل «لیوال خیل» | | Bad Khana | باد خانه | Muchi (Mahi Kalai) | | موچي «ماهي کلی» | |
| زمبر «نادا کلی» | | Sorwi Pan | | سوروي پان | | Lewan Khel (Lewal Khel) | |

---

37 -Putwal
38 -RUSTO
39 -Pashal
40 -Gadwal
41 -SABARI Or ZAMBARI
42 -Trayzai, and Bak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Nori Kalai | نوري کلی | Zardar Kalai (Zar Darah) | | زردار کلی (زر دره) | | Zambar (Nada Kalai) | |
| ووسکی خندا (خوسکی دنده) | | Khatkad | خت کد | Sahra Kalai | صحرا کلی | Nakam Kalai | ناکام کلی |
| میرزا دین کلی (ناخاپه کلی) | | Gulam Kalai (Gulnam Kalai) | | ګلام کلی (ګل نام کلی) | | Wos Kai Khanda (Khoskai Danda) | |
| Khal Busat | خال بوسات | موسی کوټ | | Tor Tangi | تورتنګي | Mirzadin Kalai (Nasapa Kalai) | |
| Gedel (Ledor Kale) | | ګدل (لدورکیل) | | Sor Landi (Sorlandi Sayedan Khel) | | سور لندی (سورلنډي سیدان خیل) | |
| کرډو (کروړو غلجي شیخ مدي بابا) متي بابا - ژ | | Toti Kalai | توتي کلی | Pesho Kalai (Pesho Kalai Meli) | | پیشو کلی (پیشو کلی میلي) | |
| ګرچک کلی (کوچک) | | Dela Zara (Repal Razar Kala) | | دِله زره (ریپال رزار کلا): شایي ډېره زړه وي - ژ | | Karr Do (Kroro Gheljai, Shaykh Madi Baba) | |
| Pira Gul Kota | | پیراګل کوټه | | پیرجان کلی | | Gorchak Kalai (Kochak) | |
| فقیران (فقیر آباد خیل) | | Kalai (China Kale Khalsat) | | چینه کلی (چینه کلی خلسات) | | پیراتا غونډی مګل/ شایي پیر عطاوي - ژ | |
| Sorobi Kalai (Sorobi Kalai Mirai) | | صوبوري کلی (صوبوري کلی میري) | | Qasem Qala (Kala -Sam) | | قاسم قلا (کلا – سم) | |
| سید عباس کلی (حاجي سید عباس) | | Kotkai | کوټ کي | Tor Kadar (Doki Kadi) | | تور کدر (دوکي کدي) | |
| Mulla Kota (Mullayan), | | ملا کوټه (ملایان) | | Faqir Jan Abad Kalai | | فقیر جان آباد کلی | |
| Majlesa | مجلسه | Maskh Kota | مسخ کوټه | Tsapari Sabri | | څپری سبري | |
| Dokai | دوکي | حاجي نورالله خان کلی | | Piri Kalai | پیري کلی | کاریز بهرام | |
| | | Karolo (Karo) | | کرولو (کرو) | | احمد قول | |
| (لودویګ آدمک) | | | | | | | |

د سبري کلي په ۱۹۱۴ز کال کي په لاندي ډول شرحه سوی دی: دا په خوست کي د متون د شمال په ۱۲ مایلی کي یو کلی دی. د دي کلي شاو خوا ډېـره ښه خړوبه ده او کرنیزې ځمکي کلي ته نېـږدې دي. (کینیډي)

**صبرِ بالا:** [43]: ۱۳ – ۳۴، ۱۸ – ۷۰ (ن.): دا د (آګام) [44] د شمال په نېـږدې ۲ مایلی کي د جلال آباد په ولسوالي کي یوکلی دی چي د چېریار د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کي موقعیت لري. استوګن وګړي: خوګیاني او تاجیکان. (جنکینز اوسنی نقشي د (سبر) [45] نوم ښیي. (لودویګ آدمک)

**صبر پائـین:** دا د صبر بالا د شمال په نېـږدې ۱ مایلی کي یو کلی دی. استوګن وګړي: خوګیاني او تاجیکان.

* **سابي خیل:** [46]: ۵۷ – ۳۴، ۱۸ – ۶۹ (ن.): دا د پروان په ولایت کي د (دشتِ بګرام) [47] په سیمي کي یو کلی دی.

**سبز**: دا یو ټیټ کوتل دی او هغه سرک وربانديِ تـېرېـږي چي له شیبر څخه مخ پر ختیځ راغلی دی. وګورئ: (غوربند)

43 -SABAR -I -BALA
44 -Agham
45 -Sabre
46 -SAB I KHEL
47 -Dasht -i- Bagram area,



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

**سبز: ۵۰ – ۳۴، ۳۹ – ۶۶ ج»:** دا د یخ ولنگ په ولسوالي کې یوه تنگه دره ده چې مخ پر شمال ختیځ راکوزه سوې او د «سچک» [48] له منځغري سره یو ځای کېږي؛ د دغو دواړو درو اوبهٔ سره راټولېږي او دواړه په گډه سره یو لوی سیند جوړوي چې د یوهٔ تنگي له لارې چې «دهانِ گلي» [49] نومېږي د بند امیر درې ته ورغورځي. دلته یو شمېر کوچني کلي دي چې ټول په گډه سره د «کیلي گان» [50] په نوم یادېږي او د «کیریگو خمِ آبه هزاره گانو» [51] ۳۰ کورنۍ په کې میشتې دي. د دهان گلي د اوبو د بهیر په کیڼې غاړې کې یوه کوچنۍ کلا او یو شمېر سمڅې دي چې د وښو، جوارو او نورو شیانو د زیرمه کولو لپاره او د غوایانو د ساتلو لپاره کارول کېږي.

د فیروز بهار- مزارِشریف سړک، له فیروز آباد څخه ۲۷ مایله او له مزار شریف څخه ۳ مایله لیرې له سبز درې څخه له «سچک» سره د یو ځای کیدنې له ټکي ۳ مایله پورې تېرېږي حال دا چې څلور مایله وړاندې سړک په خپله له سچک څخه تېرېږي. له دواړو منځغرو څخه یوه ډېره ښه لاره د دوی د یو ځای کیدنې تر ټکي پورې راغلې او بیا له دې ځایه د دهانِ گلي له لارې اساسي درې ته تللې ده. میتلند چې له کیلیگان څخه په دهان گلي ختلي دی د دې ځای، د سبز او سچک د منځغرونو شرحه ورکوي: «"د چهل برج له تنگي اوږدې درې څخه" په شپږم مایل کې ښي لاس ته په تاویدلو سره د نیم مایل لپاره مو لاره د جوارو د پټیو له منځه ونیوله او د تنگي مدخل ته ورسیدلو. لاره ښي لاس ته تاوېږي. تقریباً ۳۰ فیټه ارته ده او په دواړو خواو کې ډبرین دیوالونه دي چې لاسرسی ورته نهٔ سي کیدای. دا د ډبرو په بستر کې یوه تللې لاره ده چې په سختۍ سره تشخیص کیدای سي. له یوهٔ مایل (۷ مایلو) وروسته په دوه وو تنگو تنگیو ویشل کېږي او یو ناڅاپه ښي او کیڼ لاس ته تاوېږی. له دغو تنگیو کوز د سچک او سبز درې د اوبو د راټولیدلو ځایونه په ترتیب سره رارسېږي.

«موږ د دې لپاره د سبز درې تنگي ته ورتېر سو چې «سنگِ نوشته» [52] یا ډبرلیکه وگورو ځکه ماته ویل سوي ول چې دلته یوه ډبر لیکه سته. تنگی یوازې ۱۵ یارډه ارت دی او دواړو خواوو کې ئې دنگ عمودي گړنگونه ولاړ دي، دا گړنگونه د شاتو د مچیو د ځالې په شان سوري سوري سوي دي او کله ناکله د اوبو د خوځښت او فعالیت له کبله عجیب او غریب شکلونه غوره کړي. د مایل د ربعې له واټن وروسته زموږ رهنما ودرید او په کیڼ لاس کې ئې یوهٔ ځای ته گوته ونیوله چې له ډبرې تقریباً ۸ یا ۱۰ فیټه پورته وه. کله چې ښه مو په ځیر ورته وکتل نو د الفباء توري مو ولیدل او د لږ څهٔ ستونزې په گاللو سره پوه سو چې دا ډبرې پر مخ یوه لنډه کیندل سوې لیکنه ده. ما د ډبرلیکنې کومه اوږده نښهٔ ونهٔ لیدله او نهٔ ما په خپله د لیکنې د منځ په تشې کې نور توري ولیدل خو زما دفع دار راته وویل چې د دهٔ په باور پخوا وختونو کې همداسې لیکنې وې. د لیکنې معنی د «جنگِ اتالو» [53] "د اتالوک د جگړې" په معنی ده؛ دا لیکنه دومره لرغونې نهٔ ده چې د ډېر اهمیت وړ دې وي. په ټوله کې دا لیکنه ماته نا امیده کوونکې وختله چې د دومره زیار په گاللو ورته راغلو. تر تنگي پورې لاره ډېره ښه ده او له منځغري څخه د کوزې لارې په پرتلې ښه ده. داسې ښکاري له دې لارې څخه ډېر کار اخیستل کېږي.

---

48 -Sachak glen
49 -Dahan -i -Guli
50 -Kiligan
51 -Kirigu Kham -i -Aba Hazaras
52 -Sang Nawishta
53 -Jung Ataluk


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«بیرته راوګرځیدم او د سچک د منځغري پر لور پر مخ لاړم. لاره ئـي د زغم تر کچي ښه ده. د تقریباً نیم مایل مزل په وهلو سره منځغری د سچک د درې د کوزنی انتها پر لور مخ خلاصی کـېـږي. دلته کیڼ لاس ته لږ کم ځای راځي. د یو ځای کیدنی په ټکي کي یو کوچنی کلی دی. له بل نیم مایل مزل وروسته (له کیلي ګان ۲ مایله لیرې) دره تر ۲۰۰ یاردو پورې پراخه کـېـږي او ارتوالی ئـي په تدریج سره ډېـرېـږي. دا ځای دلته په سبزو تک شین دی او هم ټيټ قدي بوټي په کي ستـه.

«په دره کي مو د یونیم مایل په واټن مزل ته دوام ورکړ او له څو کوچنیو کلیو څخه تـېـر سولو، او خپل کمپ ته راورسیدلو، زموږ کمپ د سیند پر غاړه په هغـهٔ ټکي کي وو چي اساسي لاره له سیند څخه تـېـرېـږي.»

د سبز په منځغري کي کلي د «بامیانو» د (ولسوالي) تر سرلیک لاندې راغلي دي. (میتلند)

**سبز آب**: [54] دا د بابا په غرهٔ کي له بهسودو تر بامیانو پورې یو کوتل دی. ــ وګورئ: «جولا». په دې نوم یو کلی په ۴۲ – ۳۴، ۵۹ – ۶۷ «ج» کي موقعیت لري.

**سبز آب**: ــ ۳۴، ــ ۶۸: دا د بامیانو په ولایت کي یو کوچنی کلی دی چي د «کالو» [55] په منځغري کي واقع دی. دلته د هزاره ګانو پینځه کورونه دي. (امیر خان)

**سبز آباد**: ــ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کي یو کلی دی چي د کابل د سیند په ښی غاړه کي د ظلم آباد او د «نغرک» [56] تر منځ واقع دی. استوګن وګړي: غلزي. (جنکینز)

* **سبزک**: ۵۳ – ۳۴، ۳۹ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کي د بامیانو د شمال لویدیځ په نېـږدې ۱۲ مایلی کي په «درهٔ سبزک» کي یو کلی دی.

**سبزل**: وګورئ: قول ِ تبرغان [57]

* **سبز سنګ**: ۶ – ۳۳، ۳۱ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کي د ارغنداب په سویل ختیځ کي، «چوب ِ بوسید» [58] ته نېـږدې یو کلی دی.

**سبز دِه**: ۳۸ – ۳۴، ۱۹ – ۶۹ «ن» دا یوه غرنی لړی ده چي په ختیځ کي د کابل دښته له هغي ناهموارې لوړې سطحي څخه جلا کوي چي له منځه ئـي سیند کوز په لغمان ورځي. (هولدیچ) اوسنی نقشي د «دِهٔ سبز داغ/ ډاګ – ژ» نوم ښیي. (لودویګ آدمک)

**سبز دِه**: ــ۳۴، ــ ۶۹: دا د کابل د شمال ختیځ په ۱۲ مایلی کي د پنجشیر د سیند د یوې څانګي په اوږدو کي یو کلی دی. (تورنتون)

## نور بیا

54 -SABZAB
55 -Kalu glen
56 -Nagharak
57 -SABZAL SeeTABARGHAN (KOL-I)
58 -Chub -i -Busid


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## * سبز جوی: دا د بامیانو په ولایت کې...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ